نن هغه کوټي دبلوسي اوظلم په ټوکه (بیاطور) ماتي شـوي، چي دخپل بدمرغه اولس دسروهلي بروهلي برخلیك دسمون لپاره خوځیدي.

نن دقلم دنغري سپرغي او شرر له الوتوپاتي شو.

نن دادبي رحمت دوریځي هغه چنده هم دبلوسي اوقهرپه ساړه او توند باد ولیږدیده، چي له تیـرو دوو لسیزو راهسي دجهل او علم دښمني غـارمو دلولپه کړي اولس پرسرولاړه وه.

نن زماني زمـوږ دهیلو او ارتیا پرخلاف جوته کړه چي. توره دقلم ملا ډیره ژرماتولاي شي.

نورنوهغه چـازمرزه قلم دسنګر ملګرتیـا پریښووه چي کلونه کلونه يي دزړه په وینو اوقربانۍ په ولوله تود ساتلي و.

نور هغه شرر داورداورکي په خیر نه ځلیږي، چي موږ تري دخپل سرېچن اولس دفکري تودوخي لپاره دخوړلن اوبیا دلمبوپه ټه وو.

خداي خبرچي بیا به ګني بله پښتنه موروخپلي سپیڅلي شیږي له زانګوبل ادیب اسماعیل ذبیح الله خپلي کړیدلي اودجهل دتناره تورو لمبوهلي ټولني ته وراندي کړي.

نه نه!

دامي څه وویل آه مسوږ نهیلي نه یو، زموږ دفرهنګ او ادب دغرونوځنګلونه کله هم لـه زمریونه خالي کیږي. موږ پـه ټه یو، بلکي ټینګ او پوخ باورلرو، چي:

لکه ذبیح الله شـرر چي دکوم احساس، دکومي ژمنتي اوکوم ایمان له مخي دارلـس او ټولني فرهنګي پرمختیا او ملي پرمختګ لپاره قلم رااوچت کـړي و. نو کـه داملي اوفرهنګي ژمنه یوځل مبوه او پایله راپه لاس کولاي، نواپابیاګني کیدوني نه ده؟

زموږ په قاموس کي نهیلي ګرد سره دفنابرابره چارده.

خوځان دګران اروابناد شرر دادبي خدمتونو دمنتي پوروړي ګنو.

زه ویاړم، چـي اروابنـاد شرر ډیرونوروخپلوانو اودوستانو زیات ماته منسوب او زه هغه تـه «اروابي بناده اولاريي له لارویو وکه اوشه.

هرسهارسترګي دګل په اوښکوډکي
په داباغ کي بي ژړلو خنداته شته

دوطن مینه

سیدهاشم «هاشمي»

که ته شوي رنګ نوژه ملنګ ګرځمه
وطنه: ستا پـه مینه رنګ ګرځمه

تـه رنګیني تـه دي ښکلاوینمه
تـه دي سرورتـه دي خندا وینمه
هریوبچي دي پـه ژړا وینمه
په چغو چغو ستاپه څنـګ ګرځمه

ځوك دي سوزي ځوك دي وراني وطنه
ځوك دي سـرو وینو کي لمبي وطنه
ځوك دي پردوباندي خـرڅي وطنه
وچ دي لـه غـمه لکه بنګ ګرځمه

ستادزخمي زخمي ټترلـه لـوګي
دتنـګ مـرچلـه ستادګرنه لوګي
کرم دښمنان په دي لـه سرنه لوګي
ملامي ترلي ستا پـه تنګ ګرځمه

ډیر شوبي قـدره بي عزته ژوندون
دك شوله شرمـه دذلته ژونـدون
نوریم بیزارلـه دي بي پته ژوندون
په بل وطن کي پـه بدرنګ ګرځمه

ستاخروخاوروکي خړ پړ خوشحال یم
په خپلو وینوکي ککـړ خوشحال یم
په ژوند لاڅه چي تاکي مړخوشحال کم
زه دي په مینه کـي پتنګ ګرځمه

قاتل نظر

محمدحسن «حقیار»

پیـالـه دوصـل ومونده لیوني
ته دي دعقل بت تـه کړه عبادت
عشقه تنها پـه تابي راووړایمان
پل به وروك نه شي دمجنون دکاروان
ته لکه شمعه هرمحفل کښي خاندي
په همکده کي لمانځي يـاد دلیلا
په کي انځور وي دوختر حسادثي
داځوقاتل نظروستا دسترګـو
که د «حقیار» اوښکي مالګيني وي نو

خبري درازکـړلـه پـرده لیوني
هیره به نه کـړي میکده لیوني
بل چاته نه شول په سجـده لیوني
په پښتنوکي خـو لا شته لیوني
لکه پتنګ موني شـو لمبه لیوني
ځکه کیسه کـړلـه اوږده لیوني
چـي د ازل آیینه لـیده لیوني
شول دجنون پـه رنځ اخته لیوني
ګوڅه کي زموږ هم شته پروده لیوني

تجلی ایمـان در

نزد خدا بحیث راستګووصادق ثبت ګردد و طبق این فیصله دیګرهرګز دروغ نخواهد ګفت » ویقیناً که دروغ بسوي بدکاري مي برد، وبدکاري به

جهنم سوق میدهد وادمي بطور مکرر دروغ میګوید تا آنکه نزد خدا بحیث دروغګو ثبت ګردد. (که دیګرراست نخواهد ګفت).

به استنادقـول پیامبر (ص) دروغګوئي، عـهد شکني وعدم رعایت قول خود وبد زباني ٣ بر٤ مجموع نفاق است.
چنانچه مي فرماید:

(عن عبدالله بن عمر(رض) ان النبي (ص) قال اربع من کن فیه کان منافقاً خالصاً ومن کانت فیه خصلة منهن کانت فیه خصلة من النفاق حتي یدعها: اذا اؤتمن خان - واذا حدث کذب واذا عاهد غدر - واذا خاصم فجر).

ازحضرت عبدالله بن عمر(رض) روایت است، که پیامبر (علیه السلام) فرمود:

چهارخصلتیست که درهرکي باشد منافق خالص وکامل است، وهرکي دراویکي و ازین خصلت ها باشد درواقع » خصوصیتي ازنفاق دراوست، تاآنکه ترکش ګوید:

چون امین ګرفته شود خیانت کند.
چون حرف زند دروغ باشد
چون عهد نماید غدر کند.
وچون به خصومت بپردازد بدګوئي کند.

چګونګي شخصیت انسان را میتوان ازچګونګي ګفتارش دریافت - زیرا ابعاد مختلف شخصیت آدمي درلحن قول او منعکس میشود.

دغونچې د رباط ور په واکیدو دی
قافله د رنګ وبو د رومې سباشو

شیدا

دیوحدیث په رڼاکې خپل مخونه ووینې

"دښه ملګري او بدملګري مثال رسول اکرم صلي الله علیه وسلم داسي ورکړي چي ښه ملګري دعطار(عطر پلورونکي) په شان دي چي یاخو به درله څه عطر په جامو ووهي او یا به تري څه خوشبویي دررسیږي او بدملګري داسي دي لکه دبټي وهونکي چي که لوږ ضرور بي درونه رسیږي نوخه سپرغي خوبه دي جامو ته خامخا دررسیږي.

اوزه دیوښه ملګري کور ته دهغه یوښتني له ورغلم دهوجري په هر دیوال مبارك احادیث او دعلماوو اقوال ځوړند وو، زما سترګي په یومبارك قدسي حدیث ښخي شوي دحدیث مضمون داسي و « عن ابي هریره رضي الله عنه عني النبي صلي الله علیه وسلم قال قال الله عزوجل:

ثلاثة اناخصمهم یوم القیامة رجل اعطي بي ثم غدر ورجل باع حرا فأکل ثمنه ورجل استأجر اجیرا فاستوفي منه ولم یعطیه اجره ». بخاري شریف

دابي هریره "رض" نه روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چي الله تعالی فرمایي: دقیامت په ورځ به زه د دریو کسانو مدعي یم یو هغه سړي چي زما په نوم لوز وکړي او بیا پکي غدر وکړي بل هغه سړي چي یو آزاد انسان خرڅ کړي او بیه (قیمت) يي وخوري اویل هغه سړي چي یو مزدور په کار واچوي، کارتري پوره واخلي خو مزدوري ورنکړي.

مادغه حدیث لوستلو او غوږي مي زیږیدلو او چي څومره به دکورخاوند دحدیث دمانا په هکله خبره اوږدوله هغومره مي ویره او وحشت زیاتیدلو او په خاص دول چي کله هغه وویل چي د قیامت په ورځ پریکړه هم دخداي (ج) په لاس کي وي اومدعي هم هغه قهار ذات شي نو بیا به دهغو بد بختو څه حال وي په چاچي تومووري حدیث صدق کوي!!

څومره لوزونه دي چي د نورو ددوکه کولو لپاره ورسره موږ دخداي (ج) نوم ملګري کړي او قرآنونه مو ورسره دیولي دي. خولا د لوزونو دلیك رنګ نه وي وچ شوي چي موږ يي دماتولو ټول اسباب برابر کړي وي. یو لوزماتوو اوبل جوړوو او په هر لوز اوتعهد خداي (ج) شاهد نیسو. دکورکلي یوملك یا سپین ږیري سره که چا دغسي لوبه وکړه نو خامخا به دخپل پت اوعزت دخوندي کولو لپاره څه نه لاس اچوي اوچي دکائناتو له خالق اومالك سره يي جنایان کوي نو ایا یوښتنه به تري نه کیږي؟

اویل بدبخت انسان هغه دي چي آزاد انسان وپلوري اوترلاسه شوي مال يي دخپلي ګیډي دوزخ ته واچوي. یخوا خوبه ښه و چیرته به یو انسان چاخرڅ کړو او په همدغه ګناه به الله جل جلاله ونیولو اوچي دا نن سبا دټول ملت او اولس سودا کوي نو ددوي به د قیامت په ورځ څه حال وي؟ زموږ دټولي خاوري او قوم سودا کیږي او په هر چا کیږي اودخندا وړ خو لا داده چي یوځاي نه بلکه سل ځایه خرڅیږو. اوڅوك مو خرڅوي؟

داسي ځوك مو خرڅوي چي پخپله حلقه بګوش غلامان دي، دادشلمي پیړي له ټولو ستره ټوکه اوپه عین حال کي لویه فاجعه ده چي یوڅو بي هویته غلامان داسي آزاد اومجاهد ملت پلوري چي دنړي دغلامي له ټولو ستره کړي (شوروي الحاد) يي مات کړي او په میلونونو محکوم انسانان يي دآزادي له خوند سره آشنا کړل.

غم خودادي چي زموږپلورونکي ډیردي او هر پلورونکي مو یو ځل نه، څو ځله او په یو چا نه بلکه په هر تور بازار کي په نقدو او نسیا پلوري اوبیا زموږ دسرپه بیه ځوك لیتدکروزري اخلي، ځوك قصرونه جوړوي، ځوك په بهر ملکونو کي تجارتي نمایندګي پرانیزي، ځوك هوایي شرکتونه جوړوي، ځوك پکي د دوبي دریبي اوځلورمي ښځي ارمان پوره کړي اودغسي زموږ دسرونو سرمایه له شیطانانو ځار شي.

زه نه پوهیږم چي کله دقیامت په ورځ زموږ دآزاد ملت سوداګرو خداي (ج) په وړاندي ودریږي نو دهغوي څو خانه خرابه ده، خو آیا موږ به ددي سوداګرو سره په چوپه خوله دتللو اوحتي دیوتش اعتراض دنه کولو له امله دسزا مستحق ونه اوسو؟

داملت ولي خپل سوداګر ته نه وایي چي کوري شه "! دا ملت ولي دوکه کیږي اوداژمویل شوو سوداګرو رسۍ غاړي ته اچوي؟ داملت ولي دیوبل په وینو نه مړیږي او چي د پردو هرجاسوس په یولاس کي وسلي او په بل کي ورته وسلي وځلوي نو دوي ورسره د «مرحبا» په دود سرونه وخوځوي؟

داملت ولي دیوي فاجعي پسي دبلي لپاره تیاري نیسي اوخپل بچي دنورو دتنوروتو دتودولو لپاره لکه خس اوخاشاك سوځوي؟ داملت ولي دتیرو پنځو کلونو دجنایاتو، جرمونو، غلاګانو، تباهي اوبربادي مسؤلین نه په ګوته کوي، ګریوانونه يي نه شلوي او په مخونو توکاني نه ورتوکوي؟

مانه زما دهر بي وزلي وطنوال په شان معلومه ده چي ملت مو بي وزله دي غریب دي، بي وسه دي او بي کسه، کیدي شي ډیر څه بي زړه وغواړي خوکول يي ورته ګران دي مګر داخو کولي شي چي دهغه لیوانو له ملګرتیا لاس واخلي چي زموږ غوښي يي خوړلي او اوس موهډوکو ته ډیردو داستخباراتي ښکو په سوانونو غاښوله تیره کوي، آیا داملت نشي کولي چي یو څو شیبي دمه وکړي؟ که دا دهري ورځي جنګونه دومره مقدس وي نو موږ به وګورو چي دجنایانو شهزادګان به ورله له اروپا اوامریکا نه راوغوښتل شي او کنه نو زما دملت د کوندو بچو!

توري به لالا وهي مري به عبدالله

که تااسلام ونه مانه الله (ج) به یي درنه بدله واخلي

حضرت لبینه رضي الله عنها دادحضرت عمرفاروق (رض) دکورني وینځه وه، حضرت عمرلا پراسلام مشرف شوي نه و چي دغې مبارکي بي بي اسلام منلي و، دحضرت عمرسخت مزاجي مشهوره ده، دغه بي بي به بي دومره په بي رحمي سره وهله چي ستړي به شونوویل به یي: « زه لږ دمه شم بیادي وهم، خوحضرت لبینه رضي الله عنها به په ډیرصبراوزغم سره ځواب ورکاوه « که تا اسلام ونه مانه نوالله جل جلاله به یي درنه بدله واخلي».

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۳۶۵) شماره ۱۶ یکشنبه (۲٤) حمل ۱۳۷٦

قیمت یك شماره (۱۰۰۰) افغانی (۳ روپیه)

نبوی لارښوونې

بیایې وفرمایل : کومه خبره چې. زه درته بیانول نه غواړم، هغه پریږدي . پوښتني بې رانه مه کوي . مخکیني قومونو ډیرو پوښتنو اوله خپلوانبیاو سره اختلاف کولو تباه کړي دي. نوزه چې دڅه کار حکم درکوم، څومره چې مووس کیږي هغه کوي. اودکوم نه مو چې منع کوم . له هغه نه منع شي . (مه یې کوي) « ختم »

(مسلم شریف)

احکام دین خودرابیاموزیم

مسائل دفن

۸ - بعداز دفن کردن، تالحظاتي برقبرماندن، وبراي میت دعاي مغفرت کردن، یاتلاوت قرآن پاك نمودن وثواب آنرا بخشیدن ، مستحب است .

۹ - برقبر خاك انداختن، وبعد از آن برقبرآب پاشیدن ، مستحب است .

۱۰ - برقبرکدام شاخه سبزي راقراردادن، مستحب است . در حدیث شریف است که رسول اکرم (ص) یك شاخه سبزي را دوحصه کرده ودر دوقبر قراردادند و فرمودند تا وقتیکه این شاخه هاي سبز خشك نشده باشد درعذاب میت تخفیف خواهد بود .

۱۱ - یك میت باید دریك قبردفن گردد، اما درصورت ضرورت، ازیکي زیاده ترنیز، دفن شده میتواند .

۱۲ - براي تزئین وآراستن قبر، ساختن قبه وگنبد وعمارت، حرام است .

۱۳ - اگرکسي درهنگام سفربه کشتي، وفات نمود واما ازآنجا تاخشکي آنقدرفاصله بود، که احتمال خراب شدن نعش مرده میرفت ، پس باید که میت را غسل وکفن داده ، ونماز جنازه خوانده وبه دریا اندازند.ولي اگرخشکي نزدیك بود ،میت را نگهدارند وفقط درزمین دفن نمایند .

رئیس جمهور اسبق بنگله دیش با خانم زینت حسین که قبلاً روابط نامشروع داشته ازدواج مینماید

داکه - ۲٤ حمل :

جنرال محمد حسین ارشاد زمام دار نظامی اسبق بنگله دیش اعلان کرده است . حاضر است با خانم زینت حسین که مدت چهارده سال با او روابط نامشروع جنسی داشته است عروسی نماید .

طبق گزارش روزنامه «نوای وقت » چاپ پاکستان بدنبال اعلان این مطلب ا زجانب جنرال ارشاد هنگامه عجیبی در داخل حزب «جاپتو» که متعلق به جنرال ارشاد میباشد بوجود آمده و اکثر از اعضای حزب تهدید کرده اند درصورت وقوع چنین عملی حزب جاپتورا ترك خواهندگفت .

در ادامه گزارش آمده است : جنرال ارشاد

هلیکوپتر های حکومتی پایگاه های مسلمانان مبارز را در فلیپین بمباردمان کردند

زمبوانگا -

طي برخورد مسلحانه درجزیره « بیسیلان » درجنوب فلیپین ، پانزده مسلمان مبارز ودو سربازحکومتي جان باختند .

منابع خبري جهان به نقل قول از صالح هدنان یك سخنگوي اردوي فلیپین گزارش مي دهند که قواي حکومتي این

کشور بااستفاده ازهلیکوپترها پایگاهاي نظامي مبارزان مسلمان برهبري « ابوسیاف » دراین منطقه راهدف قراردادند .

سخنگوي اردوي فلیپین افزود که تعداد جنگجویان ابوسیاف دراین منطقه به بیش از صدنفر بالغ مي گردد وعملیات حکومت برمواضع آنان ادامه دارد .

د کابل د قلعه جی سیمی د اوبو رسولو شبکه فعاله شوه

کابل - دوري

دکابل ښار دقلعه چې دسیمي داوبو رسولو شبکه چې داحیا کولو کارئې ٦ میاشتي مخکي پیل شوي و تیره ورځ دخلکو داستفادي لپاره تیاره شوه .

دشریعت غږ.راډیو دریوټ په اساس په هغه غونډه کي چې له هندي امله جوړه شوي وه دکلي دبیا جوړوني او

پراختیارئیس ملا سعدالدین اوځو تنو لورو مسئولینو خبري وکړي ، اود تولنیزو خدمتونویه وګړکي دطالبانو هدفونه اوپروګرامونه بیان کړل .

په ریوټ کي ویل شوي چې دغه شبکه دیونسف داداري دمالي اوتخنیکي مرستي په اساس دي لسوملیونو افغانیو په لګښت احیا شوي چې د یوزر (۱۰۰۰) کورنیو داوبو مشکلات رفع کوي .

د فیصلی سره...

یومرستیال دي دناپیبلو هیوادونوته وي .

هندارنګه غفوزي پدي باب وویل : زمونږ ویاندیز داؤ چې ناپیبلوهیوادونو دغوروڅنګ رئیس دي یوتن دناظرت هول دسلاکار په حیث وټاکي چې بیا په ملګروملتونوته دافغانستان دمسئلي په باره کي دناپیبلوهیوادونو نظروایي اوهم په دواکتر هول سره پدي باره کي همکاري کوي .

غفوزي وویل چې امکان شته دي چې ددغه پیشنهاد په باره کي دناپیبلوهیوادونو دمشرانویه غونډه کي چې په راتلونکي کال کي کیږي غور اوفیصله وشي. غفوزي زیاته کړه چې دده په قول درباني حکومت په ملګروملتونو کي دافغانستان نمایندګي کوي ، نو نړولو بین المللي ترلنوته دغه

ترکمنستان ارسال...

مورد انتقاد قرارداده واظهارداشته است که مسکو مي خواهد جمهوریت هاي مستقل مشترك المنافع را بسوي تمایلات سیاسي نادرست درقبال مسایل منطقه سوق دهد .

اظهارات این مقام ترکمني بدنبال آن صورت مي گیرد که شبکه تلویزیوني روسیه و روزنامه (کسمولسکه پراودا) چاپ مسکو از مساعدت نظامي مخفیانه ترکمنستان به طالبان خبرداده ومدعي شده اند که اتانا وریدل بدست آوردن مواد مخدر براي طالبان اسلحه ومهمات فراهم مي گرداند .

کالوکین هشدارداده که اتخاذ پالیسي نادرست مسکو، روابط ومناسبات ستراتژیکي دوکشور رامتضرر خواهد ساخت .

مطبوعات مسکو اوکراین را نیز فراهم کننده تجهیزات نظامي به طالبان قلمداد کرده وتصریح نموده که این کشور درقضیه مذکور شامل مي باشد .

محمد امان شارژدافیر افغانستان مقیم اوکراین ، درگفتگو با رادیو صداي امریکا دراین زمینه گفت که مامخالف مداخلات خارج بشمول کشورهاي همسایه درامور افغانستان هستیم اما ملوث بودن اوکراین دراین قضیه را رد کرده است .

وي افزود هرقدریکه مداخلات خارج رامحکوم کرده ایم ودرمقابل شان عکس العمل نشان داده ایم اما این همه تلاش هاي مابي نتیجه بوده است .

حکومت بلل کیږي چې ګدون پکې وکړي .

له بلي خوادطالبانو تحریك په هغه اعلامیه کي چې دشریعت غږ.راډیو خپره کړیده ویل شوي دي چې ددغه تحریك دتوقع پرخلاف دبرهان الدین رباني پرځول شوي حکومت ته بلنه ورکړل شویده او ددغه تحریك په قول دبین المللي معیارونو اوموازینو اودناپیبلو هیوادونو دپالیسي سره برابره نه ده اودکوریه هیواد (هند) تر تاثیرلاندي ده .

طالبان وایي دکابل په شمول دافغانستان اکثره برخي ددوي په لاس کي دي دوي وایي درباني پرځول شوي حکومت دافغانستان والحي نمایندګه نه دي، طالبان وایي د افغانستان! خلکو درباني حکومت رد کړي .

رئیس جمهور...

دستور نخواهد گرفت ، وي در ادامه گفته است حاضراست بارهبر چریك هاي مخالف مذاکره کند. مخالفین حکومت زایر که تقریباً نیمي از زایر را تحت کنترول دارند به رئیس جمهور ۲٤ ساعت ضرب الاجل داده اند تا ازوظیفه اش کنار رود درغیرآن نیروهاي آنان عملیات شان را جهت پیشروي بسوي پایتخت از سر خواهند گرفت .

درشرایط فعلی...

گوهرایوب خان درادامه گفته است : پاکستان تلاش دارد تا ازطریق تشکیل یك حکومت باقاعده وسیع بحران جاري درافغانستان راحل نماید زیرا استقرار صلح وامنیت در افغانستان براي پاکستان نهایت مهم وضروري میباشد . ادامه جنگ وخون ریزي درافغانستان مانع عمده برسر راه پاکستان جهت رسیدن به آسیاي میانه میباشد ونمیتواند پاکستان به اهداف اقتصادي وتجارتي اش درآسیاي میانه برسد. در صورتیکه صلح درافغانستان اعاده گردد پاکستان علاوه از اینکه به مارکیت هاي آسیاي میانه راه میابد نفت وگاز را ازترکمنستان به پاکستان انتقال داده میتواند .

گوهرایوب دراخیرگفته است ماېخاطر حل بحران افغانستان با روسیه نیز مذاکراتي انجام داده ایم ودراین ضمن باعربستان سعودي و ایران هم درتماس هستیم وتلاش مي ورزیم تاهرچه زودتر این بحران خاتمه یابد .

تصریح ساخته است که سیاست معشوقه اول اوست . ولی با وجود آن عروسی وی با خانم زینت حسین مایه شرمندگی برای جاپتومیباشد. خانم زینت حسین عضو پارلمان بنگله دیش است که همسر یك تجارمشهور بنگله دیش میباشد . ناگفته نباید گذاشت که بیگم روشن خانم جنرال ارشاد هم عضو پارلمان میباشد.

درسطح سیاره...

این بحروجود خواهد داشت .

مساحت مهتاب مشتري برابر بامساحت مهتاب زمین است وگمان برده می شود که آب موجود درمهتاب مشتری ازتمام آب های موجود در ابحارزمین زیاد ترخواهد بود . تصاویرگرفته شده ازاین بحریخ بسته چنان نشان میدهد که بحرهای یخ بسته زمین و بحریخ بسته قمرسیاره مشتری با هم شباهت کامل دارند.

بیش از...

کشورجلوگیري به عمل آورند .

یك مقام سازمان ملل متحد گفت که این دسته از سربازان جز قواي شش هزارنفري سازمان ملل متحد بوده که برهبري ایتالیا وظیفه عساکر حافظ صلح را درالبانیا اجرا مي نمایند .

این درحالي است که اوضاع در البانیا دراین اواخر متشنج بوده وبیش از ده هزارنفر البانیایي ازطریق کشتي وارد ایتالیا شده اند .

۱۱٤ تن ازافراد..

وتبادل آتش سلاح هاي ثقیل طرفین جریان دارد . اما از میزان تلفات وخسارات احتمالي اطلاع دقیقي دردست نیست .

گزارش دیگري حاکیستکه نیروهاي شوراي عالي دفاع درجنوب شرق جبل السراج ارتفاعات کرك وسرگودر تام را به تصرف خود درآورده اند وبه پیشروي شان به سمت نو آباد درنزدیکي محمودراقي ادامه میدهند .

گزارش مي افزاید که درمنطقه سنجان ویولغین نیز تبادل آتش سلاح هاي سنگین میان طرفین رخ داده است که ازمیزان تلفات وخسارات وارده معلوماتي دردست نمي باشد.

بیش از ۸۷...

بااین اقدامش به اثبات رسانید که مبارزه برضد فساد اداري راباجدیت ادامه خواهد داد .

وي افزود که حکومت به تمامي ایالات پاکستان دستورداده که لست افراد رشوه خوار و نا مطلوب را ترتیب داده و به حکومت مرکزي تحویل دهند تااقدامات لازم درزمینه صورت گیرد .

صدراعظم پاکستان ماموران مذکور را موقتاً از کاربرکنارکرده اما گفته است که درصورت ثبوت جرم ، همه آنان ازوظایف حکومتي سبکدوش خواهند شد .

ژورنالست پاکستاني درپاسخ به این سوال که آیا نوازشریف درجلوگیري از فساد اداري ورشوه خواري موفق خواهد شد ؟ گفت که مردم ازاقدام حکومت استقبال کرده وابراز خرسندي مي نمایند زیرا اکثر افراد برطرف شده اشخاص نامطلوب بوده اند .

تعداد زیادی...

طي سالهان گذشته حدود یکصدوپنجاه سازمان امدادي غیردولتي مصروف خدمت به مهاجرین افغان درپاکستان بود که بادرنظرداشت عودت مهاجرین به افغانستان واستقرارصلح وامنیت درمناطق تحت کنترول طالبان تعداد کثیري ازاین موسسات بداخل افغانستان منتقل شده اند . قبلاً این موسسات بنابرعدم امنیت وآرامش نمیتوانستند به افغانستان بروند و مستقیماً درآنجا فعالیت کنند اما فعلاً شرایط براي آنان مساعدمیباشد .

گزارش دراخیر حاکیست : گرچه پالیسي طالبان درموردزنان وحق کارکردن آنان موافق میل این مؤسسات نیست مگربا آنهم اکثر این مؤسسات به فعالیت هاي شان درداخل افغانستان ادامه داده اند.

عملیه واکسیناسیون

امریکا، پایان عملیه واکسیناسیون ضدفلج اطفال در سراسر افغانستان را موفقیت آمیز توصیف کرده ، اظهارداشت که بنابرارقام بدست آمده این عملیه نود درصد درکابل وصد درصد درجلال آباد براطفال کمترازسن پنج سالګي مورد اجرا قرارګرفته است .

وي درپاسخ به این پرسش که نقض آتش بس درجریان عملیه واکسیناسیون چه تاثیرداشت ؟ گفت : مادر مزار وهرات باموران سازمان درتماس شدیم ، آنهـا بما اطلاع دادند که عملیه مذکور بدون کدام مشکل خاصي بپایان رسیده است .

نامبرده افزود که نقض آتش بس مي تواند بر پروسه واکسیناسیون ضربه وارد کند اما مشکل جدي را برسرراه کارکنان

بین المللي ایجاد نکرده است .

وي علاوه کرد که دور دوم واکسیناسیون ازاول تا پانزدهم ماه مي درافغانستان آغازمي گردد ومامصمیم که این پروسه را ادامه دهیم .

طالبانو مولوی...

پیل وکړ. دشریعت غږراډیو دریوټ له مخي په هغه غونډه کي چې له هندي امله جوړه شوي وه مولوي رفیع الله « موذن » دمولوي محمد ولي دټاکني له امله چې دطالبانو دامیرالمومنین له فرمان سره سمه شویده مبارکي ووېله .

وروسته مولوي محمد ولي دخپرو په ترځ کي داسلامي قوانینو دتطبیق په ترځ کي دهرارخیزي همکاري ژمنه وکړه

ذبیح الله شرر شهید

خبریال زیاتوي چې دنصرت مینې مهاجرینو دزلمي شرر په ظالمانه قتل باندي ژور خپګان وښود، له امنیتي مسئولینو څخه ئې دخپلې دندي دسیسي اجراکولو او دشهید شرر له کورنې او وارثانوسره ئې دمرستي اوپیوستون غوښتنه وکړه .

داکتر ذبیح الله « شرر» دجهاد مایه نازلیکوال و، دلوړ ذهانت ، ښه تفکر، زوور ورقلم ، ښې مطالعي او له تاثیراو جاذبې ډك ابتکار خاوندوچې په مرګ ئې واقعاً زموږ په قحطي اخسته ملت ته یوه لویه ضایعه ده .

داکتر ذبیح الله «شرر» د الحاج طالب جان زوي په ۱۳٤۲ لمریزکي دکونړ ولایت دسرکانو ولسوالي د پشـد په کلي کي زیږیدلي . په شپږکلني کي ئې دپشدپه منځني ښوونځي کي زده کړه پیل کړه ، په ۱۳٥٤ کـې دکابل دکارته پروان په متوسطه ښوونځي کي شامل شو، په ۱۳٥۷ کي دنادري لیسي لسم ټولګي ته ولاړاوترڅلورنیم میاشتني ازمویني وروسته یې ښوونځي پریښود اوبوکال یې په خپل کلي پشد کي تیر کړ . د ۱۳٥۹ په قوس کي پیښورته رامهاجرشو اوپه ۱۳٦۰ کي دسیدجمال الدین « افغان » لیسې په یوولسم ټولګي کي شامل اوپه ۱۳٦۲ کي له نوموړي لیسې نه په لومړي درجه فارغ شو او داوه ګړني اتحاد دتعلیم اوتربیې دریاست له خوا دلوړو زده کړو لپاره کویټ ته ولیږل شو .

دلوړو زده کړو ترپاي تـه رسولو وروسته ددي باوجود په بهرکي ورته دارام ژوند زمینه وه خـو دجهاد اوخپل ولس مینې بیرته پیښورته راووست . پـه پیښورکي تربوه وخته دخپلو مجاهدینواو خلکولپاره په روغتیائي چارو بوخت چې دمشر وروز ظالمانه قتل کیدوتې ژوند په جنجالونو واړاو.مګر شرر دټولو پریشانیو اوستونزو مقابله په مضبوطم ایمان اولوړه روحیه کـوله . دکتاب اوقلم مینه ئې اغیزمنه نشوه ، په دي ټوله موده کي ئې قلم داسلام اوخپل ملت په داسي خدمت کي وچي موضـوع، وجدان اوقضاوت یې په حقیقي معني له ټولو آلایشونو نه پاك اوله هرراز شکونونه لیرو . که هرڅا په شهادت » کي د شرر « خوابه ترخه » اود« زړه دردزا » (دډاکترګلزار په مستعارنامه) لوستي وي، نوخامخا به له موږ سره په دي کي هم نظره شي چې زلمي اولخوانیمرګ ذبیح الله « شرر» زموږ یوه قیمتي سرمایه وه چې متاسفانه ظالمولاسونو اوقاتلوارادو تالاوالاکړه .

روح دي ښاده اوپه کورني دي برکتونه وي

د نری تول...

لاس وهلو څخه ځانونه وساتي .

اعلامیه وایي دافغانستان نظامي حل نهاید په نظر کي ونه نیول شي اوددټولو خواوو نه غوښتل شوي چې دملګروملتونو دهلوڅلوملاترېدي وشي چې دملي روغي جوړي دافغانستان دبیاوداتولو اودیوجامع حل لپاره کیږي .

په اعلامیه کي راغلي دي چې پدغه روغه جوړه کي دایمي اوربنـد، دکابل غیرنظامي کیدل اوداسي مرقتي حکومت شامل دي چې دملي حکومت ممثل وي اوبراخ بنسته وي . پدغه اعلامیه کي دملګروملتونو اودافغانستان لپاره دځانګړي ټولني دخاص استازي ستاینه شوي .

دناپیبلو هیوادونو دبهرنیو چـارو وزیرانو دافغانستان پـه سرحدونو کي دوسلو اومخدره موادو دقاچاق په شمول چې دځینو جنایتکارانو او دافغانستان دځینو سیمهوخلکرځرا کیږي اوهمدغه راز دافغانستان دخاوري تـه دتروریستانو دتربیې لپاره کاراخستل کیږي اوځاي ورکول کیږي اودامنیت دنه موجودیت په باره کي یې اندیښنه څرګنده کړیده اودایي دافغانستان په شمول دسیمې دسولي لپاره تهدید ګڼلی دي .

د دولت شاه...

مخالفین داهم وایي چې ددوي دورمي شپې په جګړه کي یوه اندازه وسلې او مرګونه وړځه کړي اودسیمي داوسیدونکوله ملاترڅخه برخمن شوي .

دمخالفینو دادعوا تراوسه کومي آزادي منبع نده تائید کړې اونه طالبانویدي باب کوم ریوټ ورکړي دي.

په ننګرهارکی

مقاومت سره مخامخ شوي دي.

دوي ویل دتیرو څو ورځو په جګړو کي مخالفینوته دڅـان دروندہ مرګ اوژوبله وراوښتي او یوه اندازه وسلې په ولجه تري نیول شوي دي .

دطالبانومنابع وایي چې ددوي څواکونو دجګړي په بهیرکي لـه مخالفینو څخه (۲۰۰) کسان ژوندي نیولي او دهغوي په خلاف ئې خپل پرمختګ تـه دوام ورکړي دي .

له بلي خـوا پـه پیښور کي دننګرهار دپخواني شورا ویاند دتهران راډیو سره په مرکه کي دلعل پوري ، تازیانو اوګوشتي دولسوالیو دنیولو دعوا وکړه اوڅرګنده ئې کړه چې ددوي دتیري اوني دجګړو په دوران کي له طالبانو څخه (۷۰) کسه وژلي اویوشمیرنور ئې ژوبل کړي دي .

حدود بیست ماین..

طبق گزارش منابع خبري بین المللی قراربود مرترحامل پاپ از روی این پل بگذرد که کشف ماین های یاد شده باعث نگرانی بیشتردرمورد تامین حفظ جان وی شده است . گرچه مسئولیت حفظ جان پاپ به عهده پولیس بوسنیا میباشد ولی نیروهای سپاه صلح سازمان ملل متحد نیز در زمینه با ایشان همکاری میشماید .

گزارش دراخیرحاکیست : تاکنون مسول بم گذاری اخیر در زیر پل جاده مشرف به میدان هوائی سرایو معلوم نبوده اما گمان برده میشود که عناصر تندرو مسؤل چنین کاری باشد . در چند روز گذشته نیزکلیساهای کاتولیك ها درسرایو هدف حملات متعددی قرارگرفته بود .

ظرف پنج سال...

مختاري ازحکومت اند درارگزارش آمده است که حکومت هند درجنوری سال جاري وعده مذاکرات با این قبایل را داده بود که تاکنون به این وعده اش عمل نکرده است . قبایل بودهزارپنج سال به اینطرف مصروف عملیات آزادیخواهانه علیه حکومت هند میباشند که در این جریان حدود پنج هزارنفر تاکنون جان باخته اند .

په ترکیه کسی...

کولوبي هغوي ته داروپایي وروروالي دوکه ورکړي ده ، چې یوخوب ته بلکې سراب دي، په دغه خوب اوسراب کي میرمن چیلر هم لـه کمالستانو سره شریکه ده ، هغه هم دکلنټن کلمه وایي اوترکیه له اسلامي نړي نه لري ساتل غواړي، خو بیا هم هغه دکمالستانو پرخلاف دسیکولریزم اوکمالیزم دملاتړ پرځاي داروپایي اتحـاد غړیتوب ته لومړیوالي ورکوي، چـې ترکیې ته په هیڅکله ورنه کړاي شي، فوځي قوماندانان وزیـــر اعظـــم اربکان داسلامایزیشن لـــه ګناه منعه کول اودجمهوریت او سیکولریزم پـر ساتنه مجبوروي . پر اربکان چې کوم تورونه لګیدلي دي هغه ډیـر حیرانوونکي اوبندور دي :

۱ - داستنبول په اتاترك باغ کي بي دترکي مسلمانانو پـه غوښتنه یوجوماټ ودان کړي، برازي دانه چې دنورو جوماتونو دوداتولو عـزم بې هم څرګند کړي دي، چې لـه هغونه یوبه بې دجمهوري ریاست دماني ترڅنګ وي .

۲ - دپوهنتون ترکي نجونوته بې دباحیاجامو داغوستلو او سرپټولو اجازه ورکړي ده .

۳ - په ترکیه کي قانون دي چې دقرباني څرمني بـه دترکیې هوایي شرکت ته ورکول کـیږي ، خو اربکان ترکي مسلمانانوته اجازه ورکړي، چـې دقرباني څـرمني هرچاته ورکوي ورکولاي شي .

٤ - دحج سفرېوازي دترکیې دهوایي شرکت په وسیله قانوني و، مګراربکان دخمکي له لاري هم حج ته دتللواجازه ورکړي ده .

٥ - درفاه ګوند داسلامي کولو ګناه کوي، چې ترکي سیکولرستان بې په بنسټ پالني اودهشت اچوني سـره تعبیروي .

٦ - دترکیې دښار انقري یوې کالوني ته « سنجلا» ویل کیږي په دغه ځاي کي د ښاروالي رئیس ساغلي بکریلدیز د« مسجد الاقصي » ورځ ونمانځله اوګناه یې داوکړه چې دامریکا دحسد اوکینې دراپارولو له پاره دایران داسلامي جمهوریت سفیر « محمد رضا باقري » د مشـر میلمه په حیث رابللي و، دایران مولویان خوملنګان هم دي اوکوتك ماران هم اوامریکا خوداحترام په توګه د ستر شیطان په نامه یادوي، ښاغلي باقري داســلامي نړي د سیکولرمشرانو پـه باب یو احساساتي تقریروکړ او د هغوي بزدلانه کړه وړه یې په کلکه وغندل او ویې ویل چې دبنسټ پالني په نامه په اسلام کي هیڅ نشته ، دهشت اچونه ګناه ده اوجهاد فـرض دي، اوځني خلك دمسلمانانو دآزادي جـهاد ددهشت ګردي په نامه غلي کـول غواړي، صلیبي اوصیهوني تبلیغاتي وسیلي مسلمانان بدناموي، نوموړي سفیر داسرائیلو دتروریزم پـه کلکه غندنه وکړه اومسلمانانوته یې وویل چې ټول پرظالمو صیهونستانو اودهغوي پرملاترکوونکیو لعنت ووایاست، دحزب الله اوحماس ملاتړوکړي، که له یوې خوا دښاغلي بکریلدیز دغـه جرأت اوښاغلي باقري ایمان روښانوونکي ویښا واشنګټن اوتل ابیب لړزولي دي، نوبلي خواته ښاغلي سلیمان دیمـرل، دهغه کمالست پلویان او پوځي جنرالان هم ویریدلي دي، پـه دي باب دترکیې دملي امنیت شوري یوه غونډه وشوه اوښاغلي اربکان تـه وویل شول، چې داسلامي کولو لــه پروسي منع شي، واشنګټن اوتل ابیب راضي کړي اوکه نه نو .... اوښاغلي اربکان ورته مسکي مسکي کیږي ..ولي ؟

پرښاغلي اربکان داتورهم دي چې هغه دترکانو تیریرم بیرته راژوندي کول غواړي، هـغه تـرکان دواشنګټن اوپااروپا پرپلونو دتللو پرځاي، دترکیې هغه کردار راژوندي کول غواړي، چې دقسطنطنیې فاتح « محمد الفاتح » سلیمان اعظم اوسلطان یلدرم ته په برخه شوي و، پـه دغه کارکي صیهوني اوصلیبي لاسوهونکیو ته خپل مرګ په نظرورځي . اوس به تاسي پوښتنه کوي، چې ښاغلي اربکان څنګه موسکي موسکي کـیږي ؟ یـو خو داچي دمؤمن انسان همدانښه ده ، دریم داچي الهي تورپرکفـري حـرکاتو موسکاکوي چې دغـه چـراغ په پوکیومړنه شي .

دریم داچي ښاغلي اربکان ترکي اقتصاد له مشکلاتو ایستلي دي، غریبو ترکانو دودي میندلي ده ،ترکانو ته دکمالي دیکتاتورانو ظلم، تـیري ، دوکه ، چل اوغولونه ښـه یاده دي، اربکان ته دامعلومه ده چې ترکان څه غواړي اوکمالي سیکولریستان په څومره اوبوکي دي، هغوي په دي باوردي چې دنړیوال استعمار له پاره دالجزایر پیښه په ترکیه کي تکرارول آسان کارنه دي، ترکي عسکروهم دااتکل کړي دي، چې اربکان دهغوي اړتیاوي په ډیر درناوي سره پوره کولاي شي، کمالستان پراربکان تورلګوي، چې نوموړي سیکولریزم اوجمهوریت له منځه وړي، خواربکان وایي چې دسیکولریزم مطلب دچـا په مذهبي عقیده اواعمالوکي دمداخلي نه کولو پـه معني دي، زه خپوازي خلکوته سیکولر آزادي ورکول غواړم، جمهوریت دراپوړآزادي اودهستوګني دآزادي نوم دي، زه ترکي قوم ته همدا ورکول غواړم دالاځه ډول سیکولریزم دي چـې جوماتونوته جندره ولګوه ، آیـا داروپا ټولومشهوروسیکولرستانو کلیساګانو ته په زووره جندري واچولي، هغوي کله له زیارت او عـبادت منع کړي دي، داکوم ډول جمهوریت دي، چې دامریکا پرجمهوررئیس اودانګلستان پرملکه دي وګړي په آزادانه توګه انتقادوکړاي شي، خو مـوږ مظلومو ترکانوته دآه ویستلو اجازه هم ورکولاي نـه شو، تاسي دسیکولریزم اوجمهوریت په نامه دتقریباً یوسل پنځه ویشت کالو هغه دوران بیرته راوستل غواړي، چې دیوه بلډنګ په یوه منزل کي به مصطفي کمال اودهغه ملګرو دشرابو اوموسیقي مجلس ګرم کړي او په لاندي منزل کي به بې لـه ژوندیو انسانانو څرمني ایستل کـیدي، کمالي سیکولریزم ترکانوته څه ورکړي دي، دسیکولریزم اوجمهوریت اصلي نافذوونکي خوزه یم ، چیري چې یوغریب سـړي هم پرحکومت تنقید کولاي شي، دچاپه مذهبي چاروکي به هیڅ ډول مداخله نه کیږي، داخو سیکولریزم نـه دي چې دښځو له سرونو پړوني لري کړاي شي، دهغوي ویښتان دي لنډ کړاي شي، یادي له خلکو نه دڅـه ویلو حق واخیستل شي، اصلي سیکولریزم دادي چې ددین په چاروکي دي پرچاڤشارنه وي اوپه حکومتي اوملي چاروکي دي هرچاته دڅه ویلوحق وي، ته به وایي چې پـه ترکیه کـي روانه شخړه دسیکولریزم اواسلام ترمنځ نه بلکي دکمالي فاشیزم او حقیقي سکولریزم اوجمهوریت ترمنځ ده ، چـي وړاندي کوونکي بې اسلام دي اوس ددي خبري انتظار دي چې بري به دچا پـه برخه وي، دسکولریزم اوجمهوریت او که دکمالي فاشیزم .

په بله ویناپه پریکړه ړوند قوت کوي ، خوترکي ولس دنجم الدین اربکان په شکل کي دخپـلي پرتمیني ماضي تصویروینی .